مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۴/۰۴/۱۲

# د ژوند کولو منافقت

موږ احساس د لحاظ په سیوري کې رانغاړو.

د تکلیف شدت باندې پردې راکاږو او نرم سور رنګ ورکوو.

په بالښت خوله ږدو او له حلقه د را وتونکو چیغو مرۍ پرې کوو.

تازه کېدونکي ناسور ته د ناوې وړ ښکلې جامې ور اغوندو.

په خالصو اوښکو کې اوبه ګډوو؛ څو څکوونکي ژبې ته ډېرې نمکینې ښکاره نشي.

او د مسکاو لیدونکي مو

د سترګو بربادي ته ګوته و نه نیسي!

زموږ د ژوند کولو منافقت ډېر ښه زده دی!

لیکنه: سیماب ظفر

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ